# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Human rights | حقوق بشر |
| --- | --- |



د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن


۲۴ جنوری ۲۰۱۴

## ۶۰۰ زره زیارکښان د ماینونو له ګواښ سره مخامخ دي

په افغانستان کې هر څومره رنځ او درد چې دی د زیارکښ لپاره دی. زیارکښ وژل کیږي، لوټیږي، وهل کیږي، توهین کیږي، اسیر کیږي او په بیوزلی کې لاس او پښې وهي. د دې ناورینونو تر څنګ، ماینونه هم د زیارکښانو لپاره لوی ګواښ دی. ماینونه چې د زیارکښانو د بیلابیلو دښمنانو لخوا کرل شوي دي، نه د کوم شتمن او سرمایه دار ژوند اخلي او نه یې کوم زوي او لور ټپي کوي. دا یوازې د زیارکښانو کورنۍ دي چې د ماینونو قرباني کیږي.

د جدي په نهه ویشتمه نیټه، د افغانستان د ماین پاکی اداري خبر ورکړ چې په افغانستان کې ۶۰۰ زره تنه د ماینونو د کروندو په ۵۰۰ متری کې ژوند کوي. دا وخت په افغانستان کې ۴۴۰۰ داسي ساحي شته چیری چې لا ماینونه د افغانانو ژوند اخلي. همدا اوس ۱۶۰۰ کلي د ماینونو د چاودني ګواښ سره مخامخ دي چې اکثریت خلک یې بیوزله دهقانان او نور زیارکښان دي. د ماین پاکی د اداري له شمیرو سره سم هره میاشت په اوسط ډول ۳۲ تنه د ماینونو د چاودني له امله مړه او یا ټپي کیږي.

دا په میاشت کې ۳۲ تنه انسانان څوک دي چې د ماینونو د کر له امله مري یا ټپي کیږي؟ دا هغه بیوزله زیارکښان دي چې د نورو دربدریو، بدمرغیو، کړاونو او دردونو تر څنګ د ماینونو قرباني کیږي. دا د زیارکښانو میرمني، ماشومان او ځوانان او پیغلی او بوډاګان او سپین سری دي چې د ماینونو قربانیان دي. دا کرل شوي ماینونه چې په میاشت کې ۳۲ تنه زیارکښان وژني او یا یې ټپي کوي، چا کرلي دي؟ دا د زیارکښانو دښمنانو کرلي دي، هغه دښمنانو چې د زیارکښانو دروغجني چیغي وهلی او زیارکښان یې وژل، هغه دښمنانو چې د اسلامي دولت واکی په لاس کې درلود او یوازې ۶۵ زره بیوزله انسانان یې په همدې پلازمیني کابل کې ووژل، هغه دښمنان چې د اسلامي امارت پټکی په سر وهلی و او بیوزله انسانان یې وژل، هغه بهرني دښمنانو چې له بې ۵۲ الوتکو یې پر زیارکښانو بمونه راچول او د اسلامي دولت چاروالکو ورته ویل چې غټ غټ بمونه راوچوي، دا ماینونه د زیارکښانو دښمنانو کرلي دي.

د زیارکښانو دښمنان د ستمګری تر څنګ، دوکه مار او حیله ګر هم دي. له یوې خوا ماینونه کري چې قربانیان یې دهقانان، چوپانان او بیوزله انسانان دي، له بلې خوا په درجنونو د ماین پاکی اداري جوړې کړي او په میلیونونه ډالره ورته ورکوي چې له دې کار سره ظاهراً ښکاره کوي چې ګني د ماینونو د کر په ضد دي. خو حقیقت بل څه دی، حقیقت دا دی چې دا اداري د جنایتونو د پټولو او د پیسو شکولو په هدف جوړې شوي دي. همدا اوس کولای شوو

داسې د ماین پاکۍ د ادارو مسوولین پیدا کړو چې په میلیونونه ډالره سپما لري او په بیلابیلو برخو کې پانګه اچونه کړې ده. ماین او ماین پاکۍ د ستمګرانو پروژه ده خو د بیوزلو انسانانو لپاره د مرګ وسیله ده.